مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا
۲۰۲۶/۰۶/۲۲

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
## دوهم ټوک
## (اته اتیایمه برخه)

### عنایت الله رشید

د ثناء الله ثنا او ( په ۱۹۷۸ز کال کې د اطلاعاتو او کلتور د مرستیال وزیر) امین افغانپور ورور. په کابل او مصر کې ئـي د اسلامي شرعیت د شرعیاتو پوهنځي لوستي دي. د کابل پوهنتون پوهنیار. له ۱۹۸۰ز کال راهیسې د ډیموکراتیکو افغان لیکوالانو د ټولنې [1] غړی.

### عبدالحسین رشیدي

په ۱۹۲۵ز کال کې زېږېدلی دئ. له لیسې څخه فارغ سوی او د پورټریټ کښلو د رسامۍ تدریس ئـې کړی دئ. د طب د پوهنځي رسام. په ۱۹۶۷ز کال کې چې د ۴۲ کالو وو د موټر د ټکر د پېښې له کبله ووژل سو.

### مـحـمـد اسرائـیل رسي [2]

( د غوایي له پاڅون وروسته) د خلق ډیموکراتیک ګوند – ژ ( د مرکزي کمېټې علی البدل غړی. د بدخشان د ولایت د ګوندي کمېټې منشي.

### ډاکټر عبدالقیوم رسول

د سردار رسول او د (امیر حبیب الله خان د لور) رقیې زوی. د ۱۹۳۰ز لسیزې په اوږدو کې ئـې طب لوستی دئ. د روغتیا د وزارت کارمند. د کابل پوهنتون د طب د پوهنځي استاد او وروسته ددې پوهنځي رئـیس. د کابل پوهنتون مرستیال رئـیس. لیبرال سیاستوال او د وطن د ګروپ غړی. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۳ز کال پورې له غبار، عزیز او نورو سره ونیول سو او زنداني سو. له ۱۹۶۳ تر ۱۹۶۵ز کال پورې د روغتیا د وزارت مرستیال وزیر. د سرې میاشتې د خیریه ټولنې سکرتر جنرال. یوه لور او دوه زامن ئـې درلودل. په ۱۹۷۹ز کال کې وفات سو.

---
[1] -Afghan Democratic Writers Association
[2] -Rasi, Mohammad Israel (Rassey)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

## عبدالرسول رسول

سردار دئ، د سردار عبدالعزیز کشر ورور. د امیر امان الله خان پرمهال د افغان محصلینو مسؤول. د افغانستان یو له مدرنیستانو څخه وو. ددري ژبې شاعر. په هند کې په تبعید کې ژوند کوي.

**غلام رسول پرماچ** : وګورئ : نورستاني

## عبدالکافي رسولي

د ۱۹۷۸ز کال د مې په میاشت کې د کانونو مرستیال وزیر.

## تورن جنرال غلام حیدر رسولي

د سردار غلام رسول زوی چې د کندهار له محمدزیو څخه دئ، په ۱۹۱۹ز کال کې په رُستاق کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۳۳ز کال کې حربي لیسې کې شامل سوی دئ. له ۱۹۵۶ تر ۱۹۵۸ز کال پورې ئې په هندوستان کې پوځي روزنه ولیدله. له ۱۹۴۶ تر ۱۹۵۴ز کال پورې د کابل په سپارهٔ ځواک / سواره نظام کې. له ۱۹۵۴ تر ۱۹۵۶ز کال پورې په جلال آباد کې افسر. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د مزارشریف درستیزوال؛ له ۱۹۶۰ تر ۱۹۶۴ز کال پورې د پلخمري درستیزوال، او له ۱۹۶۴ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د ګردیز درستیزوال. په ۱۹۶۶ز کال کې د ډګرمن په رتبې د ملي دفاع د وزارت د جلب یا استخدام مدیر. د محمد داؤود پیرو او ملاتړی. تر ۱۹۷۳ز کال پورې متقاعد وو. په ۱۹۷۳ز کال کې تورن جنرال او د قوای مرکز مشر. په ۱۹۷۵ز کال کې ستر درستیز. په ۱۹۷۷ز کال کې د ملي دفاع وزیر. ویل کېږي چې د محمد داؤود لپاره ئې سیاسي ملاتړسمبال کړ. په ۱۹۷۸ز کال کې د غوایي د پاڅون په پایله کې ووژل سو. [د کرنې د پخواني وزیر] عدالت خان له خور سره ئې وادهٔ کړی وو او ۷ بچیان ئې درلودل.

## ډاکټر مصطفی رسولي

تحصیلات ئې په شوروي اتحاد کې کړي دي. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د مسکو راډیو له پښتو پروګرام سره ئې کار کړی دئ. د ۱۹۷۸ز کال کې د مې په میاشت کې د افغان فلم رئیس. مورنۍ ژبه ئې پښتو ده.

## ډاکټره اناهیتا راتب زاد

د احمد راتب لور په ۱۹۳۱ز کال کې د کابل په ګلدري کې زېږېدلې ده. ۱۹۴۵په ز کال کې د ملالی د لیسې له اتم ټولګې څخه فارغه سوې ده. په ۱۹۴۶ز کال کې د نرسنګ ښوونځي ته شامله سوه. [۱۵ کلنۍ کې -؟ - ژ] په ۱۹۴۷ز کال کې ئې د ملالی په لیسې کې ئې تدریس وکړ. [3]اجالبه ده چې په ۱۶ کلنۍ کې ئې په لیسې کې درس ورکاوهٔ؟ - ژ[ له ډاکټر کرام الدین سره ئې وادهٔ وکړ؛ ډاکټر کرام الدین کاکړ، د کاکړو د قبیلي له آخوندزادګانو څخه دئ. په ۱۹۵۰ز کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې د شیکاګو د نرسنګ له ښوونځي څخه فارغه سوه. په ۱۹ کلنۍ کې فارغه سوې ده؟ -ژ[ په ۱۹۵۳ز کال کې په کابل کې د ښځو د روغتون کې د نرسنګ مدیره مقرره او ښوونکې. [دا مهال ۲۲ کلنه کېږي ؟ - ژ] په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي کې شامله سوه او په ۱۹۶۳ز کال کې د طب له پوهنځي څخه فارغه سوه. په ۱۹۶۵ز کال کې د ولسي جرګې په دولسمي دورې کې له کابل څخه د خلق د ډیموکراتیک

[3] - Taught at Malalai School, 1947



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

گوند د کاندید په توگه ودرېدله. په ۱۹۶۵ز کال کې ئـې د ښځو ډیموکراتیک سازمان جوړ کړ. په ۱۹۶۷ز کال کې د همدې سازمان په لومړۍ غونډه کې ددې سازمان د رئـیسې په توگه وټاکل سوه. په ۱۹۷۶ز کال کې د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې د غړې په توگه وټاکل سوه او په ۱۹۷۷ز کال کې بـېرته یو ځل بیا په همدې دریځ کې وټاکل سوه. د ۱۹۷۸ز کال د غوایي له پاڅون وروسته د افغانستان ډیموکراتیک جمهورت د انقلابي شورى غړې سوه او د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د ټولنیزو چارو د وزیرې په توگه مقرره سوه.

د ۱۹۷۸ز کال د جولای په میاشت کې بلگراد کې د افغانستان د سفارت د سفیرې په توگه مقرره سوه. د ۱۹۷۸ز کال د اکتوبر په میاشت کې له کاره وشړل سوه. د حفیظ الله امین له پرځول کېدلو وروسته اناهیتا د معارف وزیره او د مرکزي کمېټې د سیاسي بیرو منتخبه غړې سوه. تر ۱۹۸۱ز کال پورې د اطلاعاتو او کلتور ، د لوړو او مسلکي زده کړو او د عامې روغتیا د وزارتونو سرپرسته وزیره وه. د افغانستان د ښځو د ډیموکراتیک سازمان DWOA رئـیسه. د سولې، پیوستون او ملگرتوب د سازمان رئـیسه. ډاکټرې اناهیتا د پرچم په ورځپاڼې کې او هم ئـې د نرسنگ په ډگر کې څو مقالې لیکلې دي. وادۀ ئـې کړی دئ او درې ماشومان لرې. لونې ئـې نور احمد نور او محمود بریالي ته وادۀ سوي دي. مورنى ژبه ئـې دري ده. له خپل مېـړۀ جراح، پوهاند کرام الدین څخه جلا سوې ده.

## عطاء الله رؤوف

د گل نور زوی. خپل لیسانس ئـې په ریاضیاتو او فزیک کې د کابل له پوهنتون څخه اخیستی دئ. د ایلي نویز په پوهنتون کې ئـې کرنه لوستې او خپله ماستري ئـې تر لاسه کړې ده؛ په ماستري پسې له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې ئـې اضافي تحصیل وکړ. د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې د انستیتیوت د ازموینو / امتحاناتو مدیر. د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د کابل پوهنتون مرستیال رئـیس. په ۱۹۸۰ز کال کې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي رئـیس.

## برید جنرال میر طهماس رؤوف

د ۱۹۷۸ز کال د مي په میاشت کې د کندهار والي او پوځي بولندوی. د ۱۹۸۰ز کال د جنوری په میاشت کې د هرات والي. د حربي پوهنتون بولندوی.

## ډاکټر فضل مولا رؤوفي

د عبدالملوک زوی په ۱۹۳۵ز کال کې د لغمان په «دِه ملاچ» [4] کې زېږېدلی دئ. لومړنى او منځنى زده کړې ئـې له ۱۹۴۲ تر ۱۹۵۲ز کال پورې په لغمان کې کړې دي. له ۱۹۵۲ تر ۱۹۵۵ز کال پورې د کابل په دارالمعلمینو کې ئـې تحصیل کړی دی او په ۱۹۵۹ز کال کې ئـې خپل لیسانس په ځمکپېـژندنې یا جیالوژي کې د کابل له پوهنتون څخه تر لاسه کړی دی. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۳ز کال پورې د جیالوژي د دیپارتمنت اسیستانت. په ۱۹۶۳ز کال کې د فیلو شیپ تر یوۀ پروگرام لاندې جرمني ته لاړ او په ۱۹۶۷ز کال کې ئـې خپله ماستري د بن له پوهنتون څخه په جیالوژي او «پـې لینتالوژي» [5] کې واخیستله. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۹ز کال پورې د کابل پوهنتون د جیالوژي د ډیپارتمنت اسیستانت. په ۱۹۶۹ز کال کې بـېرته جرمني ته ستون سو او په ۱۹۷۲ز کال کې ئـې خپله دکتورا په جیالوژي کې د بن له پوهنتون

[4] -Demalach, Laghman

[5] - paleontology : د ځمک پېـژندنې یوه برخه ده چې د ماقبل التأریخ له نباتاتو او د ژویو له فوسیل سره سرو کار لري. - ژ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ځخه تر لاسه کړه. په ۱۹۷۲ز کال کې مدرس، په ۱۹۷۴ز کال کې پوهندوی، له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د کابل پوهنتون د ساینس د پوهنځي سرپرست رئيس. د ۱۹۷۶ او ۱۹۸۲ز کلونو په لړ کې ئـې د پوهاندي رتبې ته ارتقاء وکړه. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۸ز کال پورې د اتومي انرژي د کميسيون رئـيس. د ۱۹۸۲ز کال د آگست په مياشت کې ئـې افغانستان پرېـښود. د تدريسي کتابونو او څـېړنيزو مقالاتو ليکوال. وادهٔ ئـې کړی او څلور بچيان لري.

## سيد نور الدين رَونـَق کياني

د سيد نادر شاه کياني زوی په ۱۹۴۱ز کال کې د قطغن په کيان کې زېـږېـدلی دئ. مشهور افغان شاعر. په ۱۹۷۹ز کال کې زنداني او اعدام سو.

## نور بيا

## مـحـمـد علي رونق

د مـحـمد امان زوی په ۱۹۲۹ز کال کې په کابل کې زېـږېـدلی دئ. د...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلي رحمت آريا د آرشيف: لينک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ